لوړو زده‌کړو وزارت

تابش پوهنتون

د علمي چارو معاونیت

# د اکاډمیکو ازادیو پالیسي

کال: ۱۴۰۴ هـ، لمریز

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست


لومړی فصل عمومي احکام .......... 1
مبنی .......... 1
تعریف .......... 1
موخې .......... 1
ژمنتیا .......... 1
د تطبیق ساحه .......... 2
دویم فصل د اکاډمیکي ازادۍ موافق موارد .......... 3
د نظر ورکولو حق .......... 3
د څېړنې حق .......... 3
د څېړنې د نشر حق .......... 3
حق غوښتنه .......... 3
نظریاتو ته درناوی .......... 3
منطقي استدلال .......... 4
درسي میتود .......... 4
د استاد د نمرو حمایت .......... 4
شفافیت .......... 4
د مضمون په محتویاتو کې تعدیلات .......... 4
د محصل د نظر او وړاندیز حق .......... 5
په نظم او ډسپلین کمېته کې د محصل غړیتوب .......... 5
درېیم فصل د اکاډمیکي ازادۍ مخالف موارد .......... 6
د سیاسي نظریاتو تحمیل .......... 6
د نافذه قوانینو نه مراعت .......... 6
له درسي مکلفیت پرته علمي او اداري چارې نه تر سره کول .......... 6
تحقیر، تهدید او اذیت .......... 6
د پوهنتون تخریب او د دندې مصئونیت ته صدمه .......... 7
په دایمي توګه په علمي کادر کې د پاتې کیدو تضمین .......... 7
د کمېټو غړیتوب او پروګرامونو ته نه حاضریدل .......... 7
د نظریاتو په مقابل کې د معلوماتو او ځواب غوښتلو ممانعت .......... 7
څلورم فصل وروستي حکمونه .......... 8
د پوهنتون استازیتوب .......... 8
تصویب او انفاذ .......... 8

# لومړی فصل

# عمومي احکام

## مبنی

### لومړۍ ماده

د ملکي لوړو زده‌کړو قانون ۳ مادې ۱۱ بند د حکم په اساس د تابش پوهنتون لپاره د اکاډمیکو ازادیو دا پالیسۍ تدوین شوې ده.

## تعریف

### دویمه ماده

اکادمیکه ازادي د ملکي لوړو زده‌کړو قانون د ( ۳ ) مادې ( ۱۱ ) بند د حکم له مخې د منل شویو علمي تګلارو (روشونو) او معیارونو پر بنسټ د علمي نظریاتو آزادانه وړاندې کول دي.

## موخې

### درېیمه ماده

ددې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

1) په پوهنتون کې د اکاډمیکي ازادۍ د مفاهیمو نهادینه کول؛
2) په پوهنتون کې د ازادیو د موافقو مواردو تشخیصول؛
3) په پوهنتون کې د ازادیو د مخالفو مواردو تشخیصول؛
4) په پوهنتون کې د علمي ازادۍ د اړتیاوو تشخیصول؛
5) د پوهنتون علمي کادر، کارمندانو او محصلینو د علمي نظریو له آزادانه وړاندې کولو څخه ملاتړ کول.

## ژمنتیا

### څلورمه ماده

د پوهنتون ژمنتیا او د دې پالیسۍ د تطبیق ساحه: تابش پوهنتون علمي ازادیو ته ژمنه ده او ورڅخه ملاتړ کوي؛ د علمي کادر غړي حق لري، چې خپل نظریات په ازادانه ډول د اسلامي شریعت او د هېواد نافذه قوانینو د حکمونو په پام کې نیولو سره د پوهنتون په داخل او خارج کې څرګند کړي، د پوهنتون په داخل

کې په ټولو علمي او غیر سیاسي مجالسو کې ګډون وکړي او هم له پوهنتون دباندې خپل فعالیتونه منسجم کړي.

## د تطبیق ساحه

**پنځمه ماده**

دغه پالیسي د تابش پوهنتون رهبری، علمي کادر غړو، کارکوونکو او محصلینو د اکاډمیکي ازادۍ په مواردو د تطبیق وړ ده.

# دویم فصل

# د اکاډمیکي ازادۍ موافق موارد

## د نظر ورکولو حق

**شپږمه ماده**

اکاډمیکه ازادي د علمي کادر هر غړي او زده‌کړیالانو ته حق ورکوي، چې خپل فکر او نظریات د وینا، لیکنې، الکترونیکي وسایلو، انځور او نورو مروجو لارو له لارې د تحصیلي بنسټ په داخل کې له هر ډول ډار او تهدید پرته څرګند کړي؛ خو په دې شرط چې پورتني موارد د اسلامي شریعت او هېواد د نافذه قوانینو له مخې منع او جرم نه وي.

## د څېړنې حق

**اوومه ماده**

اکاډمیکه آزادي د علمي کادر غړو ته حق ورکوي، چې خپلې څېړنې د ټولنې د ګټو په نظر کې نیولو سره ترسره کړي او د هغې نتایج څرګند کړي.

## د څېړنې د نشر حق

**اتمه ماده**

پوهنتون د اکاډمیکي ازادۍ د حفظ او له هغه څخه د ملاتړ په موخه د علمي کادر غړو او محصلانو څېړنې له هر ډول سانسور پرته په دې شرط چې د ټولنې ګټې له خطر سره مخ نه‌کړي نشروي.

## حق غوښتنه

**نهمه ماده**

اکاډمیکه ازادي محصلانو او استادانو ته حق ورکوي، چې د هغوی د حقوقو د تلف په صورت کې له اصولي لارو څخه د خپل حق غوښتنه وکړي.

## نظریاتو ته درناوی

**لسمه ماده**

پوهنتون د علمي کادر غړو او محصلانو هغه منطقي او مستدلو نظریاتو ته درناوی کوي، کوم چې د پالیسیو او اداري وړاندیزونو په مقابل کې یې لري او په همدې توګه رهبرۍ، استادانو، کارکوونکو او زده‌کړیالانو ته

حق ورکوي، چې په ازادنه ډول په مجالسو، کنفرانسونو او شوراګانو کې د هېواد نافذه قوانینو او عمومي ګټو په رڼا کې خپل نظر څرګند کړي.

## منطقي استدلال

**یوولسمه ماده**

اکاډمیکه ازادي استادانو او محصلانو ته حق ورکوي، چې یو د بل نظریات وننګوي او په منطقي استدلال سره هغه تر پوښتنې لاندې راولي؛ همدارنګه اکاډمیکه ازادي د استاد هغه حق ته چې پر محصل یې د درسي مضمون د زده‌کړې او تمرین په برخه کې یې لري صدمه نه رسوي.

## درسي میتود

**دولسمه ماده**

اکاډمیکه ازادي استاد ته حق ورکوي، چې د خپل درسي مضمون محتوی او لوړو زده‌کړو وزارت له‌خوا منظور شوي تحصیلي نصاب ته په کتو سره ځانته درسي میتود وټاکي.

## د استاد د نمرو حمایت

**دیارلسمه ماده**

اکاډمیکه ازادي د استاد د هغه نمرو چې نومورې د محصل د پارچې د ارزیابۍ پر اساس له هر ډول تبعیض او تعصب پرته هغه ته د هغه د لیاقت او استعداد له مخې ورکړي حمایت کوي.

## شفافیت

**څوارلسمه ماده**

اکاډمیکه ازادي د علمي کادر غړو ته د قضیو له شفافیت او هغو دلایلو څخه چې د نومورې پر ضد کارول کیږی د ډاډ او څرګندتیا حق ورکوي.

## د مضمون په محتویاتو کې تعدیلات

**پنځلسمه ماده**

اکاډمیکه ازادي استادانو ته حق ورکوي، چې د یو مضمون په محتویاتو کې د کار د بازار اړتیا په پام کې نیولو سره د نافذه تقنیني اسنادو په رڼا کې تعدیلات او بدلونونه راولي.

## د محصل د نظر او وړاندیز حق

### شپاړسمه ماده

د دې پالیسۍ له مخې زده‌کړیالانو ته حق ورکول کیږي، چې د هغه تصامیمو او اجراآتو په مقابل کې خپل نظریات او وړاندیزونه چې هغوی ترې اغېزمن کیږي څرګند کړي او د هغوی نظریاتو ته درناوی کیږي.

## په نظم او ډسپلین کمېټه کې د محصل غړیتوب

### اولسمه ماده

اکاډمیکه آزادي محصلانو ته حق ورکوي، چې خپله یا د استازي په ټاکلو سره د نظم او ډسپلین په کمېټه کې غړیتوب ولري؛ د دې کمېټې د چارو له روڼتیا څخه ډاډ ترلاسه کړي او هم اکاډمیکه ازادي زده‌کړیالانو ته حق ورکوي، چې د استادانو د تدریس د کیفیت په ارزونه کې برخه ولري.

# دریېیم فصل

# د اکاډمیکې ازادۍ مخالف موارد

## د سیاسي نظریاتو تحمیل

**اتلسمه ماده**

تحصیلي بنسټ هیڅ سیاستمدار او دولتي چارواکي ته حق نه ورکوي، چې خپل عقاید او نظریات پر استادانو او محصلینو تحمیل کړي او یا د هغوی په کړنو او څېړنو کې مداخله وکړي؛ په همدې ډول د علمي کادر غړي هم حق نه لري، چې خپل نظریات او عقاید پر زده‌کړیالانو تحمیل کړي، یا له داسې وسایلو او لارو چارو څخه کار واخلي، چې له مخې یې محصلان په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د علمي کادر غړو د نظریاتو او عقایدو منلو ته اړ شي.

## د نافذه قوانینو نه مراعت

**نولسمه ماده**

اکاډمیکه آزادي د محصلانو او استادانو له هغو څرګندونو، نظریاتو، انځورونو، کړنو او ... څخه ملاتړ نه کوي چې له مخې یې د هېواد نافذه قوانین تر پښو لاندې کیږي.

## له درسي مکلفیت پرته علمي او اداري چارې نه تر سره کول

**شلمه ماده**

اکاډمیکه آزادي د علمي کادرغړو له ډلې څخه د هغو ملاتړ نه کوي، چې یوازې درسي مکلفیت ترسره کوي او نور لازم فعالیتونه (په کمېټو کې غړیتوب، مجالس، کنفرانسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه، عملي او لابراتواري کارونه، نوښتونه، زده‌کړې، د ډیپارټمنټ چارې، د کیفیت لوړونې چارې او په ټولنه کې د پوهنتون له نقش) څخه ډډه کوي او نه یې ترسره کوي.

## تحقیر، تهدید او اذیت

**یوویشتمه ده**

اکاډمیکه آزادي د علمي کادر غړو او محصلانو ته اجازه نه ورکوي، چې څوک تحقیر، توهین، توبیخ، تهدید، اذیت او یا هم د هغوي شخصیت ته صدمه ورسوي.

## د پوهنتون تخریب او د دندې مصئونیت ته صدمه

**دوه ويشتمه ماده**

اکاډمیکه ازادي د پوهنتون رهبرى، استادانو او کارکوونکو ته دا حق نه ورکوي، چې د پوهنتون د تخریب اړوند عملي او نظري قدم پورته کړي او نه هم پوهنتون ته دا حق ورکوي، چې پرته له مؤجه او مقنع دلايلو څخه د کارکوونکي د دندې مصئونیت ته صدمه ورسوي یا یې حق وخوري.

## په دايمي توګه په علمي کادر کې د پاتي کیدو تضمين

**درويشتمه ماده**

اکاډمیکه ازادي د دې تضمين نه کوي، چې د علمي کادر يو ناشايسته او پر درس نامسلط غړى دې په دايمي ډول په علمي کادر کې پاتې شي او خپلې دندې ته دې ادامه ورکړي.

## د کمېټو غړيتوب او پروګرامونو ته نه حاضريدل

**څلورويشتمه ماده**

اکاډمیکه آزادي د علمي کادر له هغه غړو څخه چې خپل درسي مکلفيت او نورو قانوني چارو (په کمېټه کې غړيتوب، ورکشاپونو، سیمینارونو، علمي څېړنو او مقالو ليکنو...) ته په تکراري ډول نه حاضريږي ملاتړ نه کوي.

## د نظرياتو په مقابل کې د معلوماتو او ځواب غوښتلو ممانعت

**پنځه ويشتمه ماده**

اکاډمیکه آزادي د علمي کادر غړو د هغه نظرياتو په مقابل کې چې غير قانوني او غير اصولي وي له هغوى څخه د پوښتنو ګروپونو، معلوماتو ترلاسه کولو او ځواب غوښتلو (استنطاق، استعلام او استجواب) ممانعت نه کوي.

# څلورم فصل

# وروستي حکمونه

## د پوهنتون استازیتوب

**شپږویشتمه ماده**

د علمي کادر غړو او استادانو هغه نظریات، چې دوی یې په تلویزیوني، راډیویي او داسې نورو مباحثو کې څرګندوي، د پوهنتون استازیتوب نه کوي او دوی مکلف دي، چې په مباحثو کې له مخکې نه څرګنده کړي، چې دا زما خپل نظر دی او د پوهنتون استازیتوب نه کوي؛ خو دا چې د پوهنتون له لورې په رسمي ډول په مشخصه موضوع کې چې د پوهنتون نظر پرې غوښتل شوی وي، مؤظف شي.

## تصویب او انفاذ

**اوویشتمه ماده**

د اکاډمیکي ازادۍ دغه پالیسي په څلور فصلونو (اوویشت مادو) کې ترتیب او د پوهنتون علمي شورا په (عـــــــــــــــــــ) ګڼه پروتوکول کې له هر اړخیز بحث وروسته د رایو په یووالي سره ثبت او تصویب شوه؛ چې له همدې نېټې څخه نافذ ده.

**درنښت**

**پوهنیار عبدالحمید سیرت**

**د پوهنتون رئیس**